AREU

د افغانستان دڅیړنی او ارزوني اداره
پالیسي یادښتونو سلسه

# په افغانسان کی د ښځو اقتصادی غښتلتوب او وړتیا : د فرصتونومینځ ته راوړل او د چاپیریال چمتو کول

لینا ګنش

۲۰۱۳ د آګست میاشت

## سریزه : د ښځو د کار او په کارونوکی د هغوي د ګډون ځیرل

په افغانستان کی په اقتصادی چاروکی د ښځو ګډون ( مشارکت) په زیاتیدونکی توګه د ښځو د حقونو د نه بیلیدونکی برخی او همدارنګه د پرمختیا او انکشاف لپاره د ډیر مهم عنصر په توګه پیژندل کیږی. دغه څیړنه، په افغانستان کی د ښځو اقتصادي وړتیا ۲۰۰۲- ۲۰۱۲: د معلوماتود ارائه کولو او آزماینتی تجزیی او تحلیل په بنه د هغو هڅو پیژندل او بیا څیړنه ده چی موخه ئی د ښځو د حقونو او د هغوی د اقتصادی وضعی اصلاح کول او سمون دی. د پالیسی دغه یادښت د هغی څیړنی په بیلګو او شواهدو ولاړدی دافغانستان د تحقیق او ارزونی له خوا سرته رسیدلی ده او د ملګرو ملتونو د ښځو د پروګرام له خوا د هغوی د پراخی استراتژی د یوی برخی په توګه چی د ښځو اقتصادی امنیت، او دهغوی په حقونو تمرکز لری، تمویل شوی دی. څیړنه د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو تر مینځ د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری له خوا سرته ورسیدله.

د نوموړی څیړني موندنې څرګندوي چې په اقتصاد کې د پراخی پالیسی د چاپیریال په چوکاټ کی د افغانی ښځو نابسیا او لږ ګډون (مشارکت) د ټولنیزو – فرهنګی ژورو ریښو لرونکی خنډونو په کتارکی شمیرل کیږي. د څیړنی لمړی برخه، چی د معلوماتو د راټولولو طرحه ده ، له ۲۰۰۲ کال څخه را په دي خوا په افغانستان کی د ښځو د اقتصادی او انکشافی حالت د لوړولو لپاره هڅی او همدارنګه نړیواله پریکړه لیکونه، حکومتی ستراتژی، قانونی تعدیلونه ، طرزالعملونه او مکانیزمونه تر مطالعی لاندی نیسی. د ښځو په اړه د انکشافی چارو او اقتصادی شاخصونو بیا کتنی لپاره، څیړنه هغه لاری او چاری لټوی چی بشری حقونو واقتصادی بوختیا ته د ښځو د لاسرسی لپاره یی ښی یا بدی اغیزی درلودلی.

د څیړنی دویمه برخه، آزمیښتی تحلیل، د انکشافی (پرمختیایی) پروژو په هکله د ګډون کوونکو ښځو او دهغوی د ټولنو په نظریو پوهیدل دی چې په کابل کی تطبیق شوی او موخه ئی د کابل په کلیوالو او ښاری سیموکی د ښځو لپاره د اقتصادی فرصتونو برابرول او د هغوی د هڅو د کچی لوړول وو. په دی برخه کی هغه ټولنیز – فرهنګی جریانونه تر ژوری کتنی لاندی نیول کیږی چی په عواید جوړونکو هڅو کی ئی د ښځو پرګډون ښه یا بد اغیز درلود. په دی هکله د افغانستان د حکومت او نړیوالو موسسو پالیسی او استراتژی چی د نوموړی موخی لپاره. دی موخی که د رسیدو لپاره، څیړنه د پالیسی او د پالیسی د عملی کولو ترمینځ او همدا ډول د ستراتژی او Praxis ترمینځ فاصله، مطالعه کوی.

## توپیر

د څیړنې موندنې دا خبره څرګندوي چی سره له دې چې د تیری شوی لسیزی لاس ته راوړنی ډیرې دې، خو د پرله پسی ډیرودونکو محرومیتونو  په پرتله چې د دری ورستیو لسیزو په جریان کې را مینځ ته شوی او د ډیری سختی او ستونزمنی لوړی لرلید ئی هم کیږی، ډیری پیکه مالومیږی. جنسیتی فاصله  د افغانستان په سکتورونو او استراتژیو کې پراخه ښکاری. دحکومت په کچه نوموړی فاصله  په لاندی ساحو کی خورا څرکنده ده: په قانون کی ، په قانونی ساحه کې؛ په استراتژی کی د پالیسی د تطبیق په جریان کی؛ او د جنسیتی انکشاف په هکله په وزارتی پالیسیاو منلی استراتژیو کی. سر بیره پردی، څرنګه چی ډیرې پالیسۍ ښی جوړی شوی او ډیری سیمی تر پوښښ لاندی نیسی، نو ځکه ئی جنسیتی چاروته پاملرنه نه ده کړی، په داسی حال کی چی ځینی نورو ئی ډیر پراخ بنسټه لید درلود  خو له عملی لارښوونو څخه خالی وی.

په افغانستان کی د ښځو د حقونو په وړاندی عمده ستونزی د پخوا په شان پوهنه، روغتیا، عامه او سیاسی مشارکت او مصئونیت دی؛ د ښځو د هوسایني لپاره  یا د شوی څلور مهم شاخصونه په مستقیمه توګه د ښځو پر اقتصادی واك او وړتیا پوری اړه لری. د جنسیت په هکله تشه ( خلاء) په لاندی ساحو کی ډیره ستونزمنه او دردوونکی ده: ابتدائی روغتیائی خدمتونو او مخصوصا بیا تولیدونکو صحی چارو ته لاس موندنه؛ په لومړنی کچي نوم لیکنه او په دویمه او دریمه کچه پرحنسیت پوری د تړلی تشدد (خشونت) حل او هغه ته

پاملرنه کول؛ په لمړنی، دوهمه او دریمه کچه کی د ښځینه وو بشپړه نوم لکینه او ابقاء کول؛ عدالت او د قانون حاکمیت ته د ښځو ډیره لږ لاس موندنه؛ د ښځو لپاره ډیرلږ عامه او سیاسي مشارکت ( ګډون) او په محلی او ملی کچه په ډیرو پریکړه کوونکو ادارو او مقامونوکی د هغوی نه شتون. نوموړی چاری د ښځو په اقتصادی هوساینی، په تیره بیا په جنسیت پوری تړلی تشدد او په افغانستان کی په خرابیدونکی امنیت باندی ډیر جدی اغیز لری.

په کار او اشتغال کی د ښځو ونډه او استازیتوب ګډوډ، نامنظم او لږ دی. شته ارقام څرګندوی چی له ۲۰۰۲ کال څخه تر اوسه د ښځو په اقتصِادی مشارکت کې کوم د پام وړ بدلون نه دی راغلی. له اقتصادی پلوه تصویر داسی ده چی : ښځی اکثراً په یوه غیر رسمي او نا منظم اقتصاد کی په آسیب منونکو او ناخوندی دندو کې بوختیا لری چې یا تنخواه نه لری او یا ډیره لږ تنخواه ورکول کیږی. په کارکې د ښځو ګډون، په ټولنه کی د هغوی منل شوی موقف ، د ښځی په توګه د هغوی د آسیب منني په ذریعه لا ډیر خراب شوی دی. کوچنی او منځنی پانګه اچونه چې د ښځو لپاره یو کوچنی بالقوه فرصت دی، په اوسنیو شرایطو کې ډیره محدوده ده نو ځکه په کوچنیو او منځنیو تشبثاتوکی ښځو ته ډیر لږ حمایت شتون لری. په اقتصاد کې د ښځو ګډون (مشارکت) د پخوا په شان د ارزښت په ځنځیر کی لږ او ډیرو سرچنیو ته د ښځو نه لاس موندنه د هغوی د مهارتونو ( وړتیاوو) او عوایدو د لوړوالی مخه نیسی. د ښځو د عوایدو لوړول داسی اقدامونو او په ملی کچه ستراتژیګانو ته اړتیا لری چې د ښځو د استعداد او مهارت لوړول تنظیم او اغیزناك کړی. نوموړی اقدامات هغو مالی، کریدتی او په سوداګري پوری تړلی خدمتونو ته اړتیا لری چې د جنسیتی سکتور د ستونزو د ښه حل لپاره د جنسیت موضوع په ژوره او پراخه توګه پاملرنی لاندی و نیسی ترڅو ښځی وکولاي شی په ټولو سکتورونو او د عوایدو د ځنځیر په ټولومرحلو کی خپل رول ولوبوی.

دغه څېړنه دا هم څرګندوی چې په اقتصاد کی د ښځو مشارکت ( ګډون) تر خورا ډیری کچې په دوه عواملو پوری تړلی ده: په یوه پروژه کی د محلي او د ټولنی پربنسټ مبتنی لیدونو یو ځای کول؛ او له بازارونو سره کلکی اړیکی چې د پروژی اغیزناکتوب او جاری ساتل تضمینوی. په داسی حال کې چې یو اسلامی چوکاټ د یوی پروژی قا نونیت او مشروعیت ته اعتبار ورکوی، د ښځو د عوایدو لوړوالی د کورنی او ټولنی په مختلفو کچوکې د جنسیت په رول کې لوی بدلونونه را مینځ ته کوی. دغه ښځی د دی توان لری چې د جنسیت په هکله منل شوی اصول تر بحث لاندی ونیسی او په دی مفهوم کی چې ښځه « dependenet ترلاس لاندي» موجود دی، بدلونونه را مینځ ته کړی. که څه هم د دې څېړني پر پنسټ، ټولی ښځی د هغو کارونو په هکله چی د عوایدو راوړونکي دي له برابر حق څخه پرخمني نه دي، خو د کړو وړو بدلونونه په هغو پروژوکی ډیر روښانه دی چې په هغو کي لوړ عاید شتون ولري اویا یي د لوړیدو امکان وي.

## د چاپیریال چمتو کول

د ځینو ستراتژی ګانو، کړنلارو، او پروژو هڅو چې په وروستیو کلونو کې عملی شوی دی او موخي ئی په ښځو کې د ظرفیتونو او وړتوب لوړول وو، په داسی حال کې چې د ښاری افغانستان او کلیوال افغانستان بدلونونه ئی محرکه قوه شمیرل کیده، په نتیجې ورکولو باندی پیل کړی دی. د ښځو لپاره په وړو او منځنیو صنعتی تشبثاتو، په تیره بیا په کرنه، د چرګانو روزنه، د زراعتی توکو تجارت، او تولید کې خورا ډیر فرصتونه او امکانات، شتون لری. په یادو سکتورونو کې، حمایوی اقدامات اړین دی تر څو د هغوی روزنه او تداوم او د هغوی په رشد او امکاناتو کې د ښخو د ډیر شمیر بوختیا، تامین شي. اوس اړینه ده چې د ښځو لپاره ډیرو کوچنیو پروژو چې په تیره لسیزه کې عملی شوی، له مثبتو پایلو څخه ګټه پورته شی او د هغوی له پوهی او وړتوب څخه په وړو او لویه کچه پالیسیو کې ور څخه کار واخیستل شی چې کولای شی ملی اقتصاد جوړکړی. ښځی په یو مساعد چاپیریال کې یوازی حرفوی ګروپونو او تولیدونکو اتحادیو او دهغوي تقویه کولو ته اړتیا لری ترڅو منظمو اصلاحاتو، پانګونی، او سوداګریزو اړیکو له لاری تر سره شی. په کار کې د ښځو ګډون باید د پالیسی، تشویقی هڅوونو، او مادی امتیازونو د ورکولو له لاری په رسمی توګه ترغیب شی.

د ښځو د اقتصادی وړتیا د پوره پیژندلو لپاره، وزارتونه او د هغوی استراتژی، او همدارنګه نړیوالی مرستی، باید په پوره توګه د افغانستان د ملی انکشاف د استراتژی(ANDS) او د افغانستان د ښځو لپاره د ملی عمل د کړنلاری(NAPWA) له ټولو اصولو سره سمون پیدا کړی. دا چې په اوسنی حالت کې «اصلي مسیر ته د (جیندر) اچول » څنګه پیژندل کیږی، او دا چې د هغې عملی کول په پروګرامونو او استراتژیو کې په مختلفو ډولونو صورت مومی – په هر صورت لازمه ده چې اړوند مکانیزمونه خپل اصلي مسیر ته ولویږي او قوی شی.ډیره اړینه ده چې دوزارتونو پر ټولو پالیسیو او استراتیژیو بیا کتنه وشی تر څو مالومه شی چې د NAPWA او ANDS موخي په وینا او عمل کې پوره تطبیق کیږی. سربیره پردي، په ځینو پالیسیو کې

د عمومی اصولو او هغو جزیاتو تر مینځ چي پخپله په پالیسیو کي ځای ورکړ شوی دی، فاصله وجود لری. په مکانیزمونو کي همغږی او نظارت لکه چي په حساب ورکولو کي رواج ده، اوړي ورکولو ته اړتیا لری.

په اوسنی اقتصادی چاپیریال کي، کیدای شی ملی او نړیوال خصوصی سکتور د جندر چارو ته په پاملرنی سره تولیدی ساحو کي پانګونی ته وهڅول شی او ښځو ته د مناسبی تکنولوژی او ښځینه تولیدکوونکو او متشبثینو ته د انتقال آسانتیاوي او په امتیازی شرایطو پورونه او پانګه ورکړی. که څه هم دغه اقدامات کولای شی د ښځو په اقتصادی استعداد او قوت کي پانګونه وهڅوی، حکومت باید عامه – خصوصی شراکت ته لازم اصلاحی مکانیزمونه برابر کړی. عین پاملرنه په اوسنیو او راتلونکو پالیسیو کي اړینه ده چي د مثال په توګه په استخراجی صنایعو او د ژوند په چاپیریال کي اقتصادی اغیز لری. د شریکانو په واسطه د ښځو د شبکو مینځ ته راوړل د ښځو د فعالیت او متداوم ګډون (مشارکت) د لوړولو له لاری ښځو ته فرصتونه برابروی. په افغانستان کي ښځو ته د اقتصادی پوهی ایجاد او بنسټیزول او د ښځو په کتار کي دداسی تخصص او تجربو پراخول ددی هیواد لپاره ډیر اړین کار دی. د ښځو په هکله د لید اغیزناک اصلی مسیر ته اچول، او په پرمختیا او حکومت کولو کي مشارکت باید دوام ومومی، په دی توګه پر جنسیتی بنسټ ولاړو اقتصادی شبکو لپاره د کافی سرچینو تخصیص ډیر ضروری دی.

په کلیو، ولسوالیو، او ولایتی کچه د ښځو خودکفا ګروپونه، او د ښځو کوپراتیفونه کولای شی د هغو سرچینو د لاس ته راوړلو لپاره ښی کړنلاری وړاندي کړي چي ښځی په انفرادی(ځانګړی) توګه یا هغو ته لاسرسی نه لری او یائی لاسرسی ډیره لږ ده؛ سیمه ایز ګروپونه مرسته کوی تر څو د ښځو کورنی او ټولنیز رول په اقتصادی فعالیتونو کي لوړ کړی او د هری ښځی د بوختیا لپاره جلا طرحی جوړي کړی. دا ډول ټولنیز جنسیتی روش  د عایداتو کچه لوړوی او د محرومیت اندازه راټیټوی، او په دی توګه په لیاقت او وړتوب کي لږوالی او په فرصتونو کي کموالی چي ځانګړی(انفرادی) استعدادونه محدودوی، له مینځه وړی. اړینه بریښی چي د سیمو په کچه ټولیز جریانونه په ملی او نړیواله کچه د ښځو له ټولیزو نوښتونو سره یو ځای شی؛  یاده شوي یوځای کیدنه سرچینو ته د ښځو د برابري لاس موندني په صورت کي چي باید پوره پاملرنه ورته وشی، لاغښتلی کیږی.

د پالیسیو او کړنلارو په جوړولو کي یو ډیر عمده ضرورت د ښځو د توپیری ژوند په سمون کي  مادی امکاناتو ته پاملرنه ده. په دی ځیرنه کي لومړني او دویمی بیلګی څرګندوی چي په اقتصادی کي د ښځو ګډون د جنسیتی اتحاد(یووالی) او همدارنګه د محتوی لرونکو پروژو او پرګرامونو له لاری چي په ښه توګه کنترول شوی وی، په ښه توګه لیدل کیږی.

## ښځو ته د اقتصادی فرصتونو برابرول

اقتصادی فرصتونو ته د ښځو پر له پسی زیاتیدونکی لاسرسی په تیره بیا په پوهنه، روغتیا، اقتصادی وړتیا او دینی چارو کي د شته استراتژی غښتلی کولو ته ضرورت لری. دغه څلور ساحی چي کیدای شی هغو ته «دښځو لپاره د فرصتونو برابرول» وویل شی په لاندی ډول عملی کیږی:

### ۱.  د پالیسی د چاپیریال غښتلی کول

د مرکزی حکومت په کچه، اړوند وزارتونه او د احصائیی مرکزی اداره باید په اقتصاد او د افغانستان په اقتصادی انکشاف کي د ښځو د ګډون په هکله نوی معلومات راټول کړی. یوازی د NAPWA او ANDS له خوا خاصه بیا کتنه او تطبیق، داړوندو وزارتونو په مرسته کولای شی ډیرو هغو ستونزو او بیرته پاتی والي ته د حل لاری پیدا کړی چي په افغانستان کي بشری پرمختیا او د فقر کمول ورسره مخامخ دی. د دی ترڅنګ، په اقتصادی فعالیتونو کي د ښځو لاډیر ګډون د ښځو په باره کي د شریعت د حکمونو له لاری او په قوانینو کي د بیا کتنی په واسطه چي د ښځو له هوساینی څخه ساتنه کوی، وده کولای شی.

### ۲.  د بشری انکشاف د ستونزو د حل لاری

ددی ستونزی حل چي نجونی او ښځي په پوهنیزو آسانتیاوو، روغتیائی پاملرنی، مصئونیت، فزیکی تحرک او قابلیت، او سیاسی مشارکت کي له ستونزو سره مخامخ دی، د پام وړ اهمیت لری. یوه خورا مهمه موضوع چي د دغو ستونزو په حل کولو کي باید په پام کي ونیول شی عنعنوی او دودیز معیارونه او ارزښتونه په جنسیتی آسانتیاوو کي دی. په دی موضوع کي ستونزه جلا، جلا منابعوته د برابری لاس موندنی نشتوالی دی چي په تیره بیا پیغلی او ځوانی ښځی ورسره مخامخ دی.

### ۳. په لېږدوونکو تمرکز

د ښځینه متشبثینو قوی او فعالی څو سکتوری شبکی شتون خورا اړین دی.

داسی یوه شبکه چې په ټول افغانستان کې، په ښارونو، دولایتونو په مرکز ونو کې فعاله وی او د ښځو له خوا د لېږدولو (انتقالي) خدمتونو (له تولیدوونکو څخه عمده پلورونکو او پروسس کوونکو او صادرکوونکو ته) د یو غښتلی مودل د جوړولو په هڅه کې وی او بین المللی او محلی مارکیت ته د رسیدلو لپاره د ښځو تر منیځ په انتقالی او لېږدولو خدمتونو کې د شراکت او ګډ تشبث اړینتوب وپیژنی او د هغه پر اهمیت وپوهیږی.

### ۴. د مالی خدمتونو پیدا کول

پور، پانګې او تضمین ته لاسرسی همدا اوس یوه ستونزه ده او ښځی د ذمه واری او د خطر په مقابل کې ضمانت له نشتوالی سره مخامخ دی. د اوسنی کوچنی تمویل په چاپیریال کې ښځو ته په تیره بیا په کلیوال غیر رسمی سکتور کې او همدا ډول په کوچنیو صنعتونو، او همدا ډول کوچنی صنعت کې لویې پانګونی چې د ښځو تشبثونو، سوداګریزو مهارتونو او بشری قوت د ګډون پراخوالی څرګندوی، یو ضرورت دی. ددی تر څنګ، په کار او مالی چارو کې اصلاحات باید پیل شی.

## نتیجه

له ۲۰۰۱ کال څخه پخوا په افغانستان کې ټولنیز – فرهنګی حالت او همدا ډول د جنسیت په اړوند هغه محرکه قوتونو ته په کتنه سره چې په هغه وخت کې مسلط وو، اوسنی حالت ته تشویقونکی ویلی شو. که څه هم ټولنیزو - فرهنګی دودونو چې د جنسیتی توازن د نشتوالی لامل ګڼل کیږی، په یوه لسیزه کې حل کیدای نشی، خو د ښځو اقتصادی ځواکمن کول په افغانستان کې د پالیسی له پلوه د بشری حقونود نشتوالی یا محدود شتون له خوا ډیر نغښتی شوی ده.

ددې لپاره چې پولی مارکیت ته د ښځو برابره، عادلانه او آسانه لاسرسی مینځ ته راشی، د نړی په اقتصاد کې د یوی «متوازن کوونکی ساحی» را مینځ ته کول اړین ګڼل کیږی. ډیر شیان د انتقال په طبعیت، او د تربحث لاندی موافقتنامی په شرایطو او دی پوری اړه لری چې اقتصاد کومی خوا ته ځی، خو باید د حمایتی اقداماتو له لاری په اقتصاد کې د ښځو د غښتلتوب پر ملی پالیسی باندی ډیر تمرکز وشی. په داسی حال کې چې لنډ مهاله تشبثات او مینځ مهاله پانګونی، او د سیاسیونو، اکادمیکو اشخاصو، د مدنی ټولنی فعالینو، سیاسی ګوندونو، دینی علما، د قومونو مشران، ولایتی شوراګانی، د تجارتی کړیو غړیو، او نورو ګروپونو له خوا د تیری شوی لسیزی د حرکت اندازه ، اوږد مهاله بشری او د منابعو د پانګونی په هکله اندیښنی لری، د ټولنی بیا شیرازه کول په اقتصاد کې د ښځو برلاسی ته سخته اړتیا لری.

### د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداري په هکله

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څیړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي. همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کونکو سره ددوی د څیړنیزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څیړنو او کتابتون څخه د ګټی اخیستنې د ترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څیرنی او ارزونی اداره په ۲۰۰۲ زیدیز کال کی د مرستندویه موسسو له خوا چې په دې هیواد کې فعالیت لری را مینځ ته شوی او د مرسته کوونکو موسسو، د ملګرو ملتونو او نورو څو اړخیزه او غیر حکومتی ادارو او موسسو د استازو په ګډون د مدیرانو یو بورد لری. د افغانستان د څیرنی او ارزونی اداره همدا اوس په عمده توګه د فنلند د سفارت،او د سویدن د نړیوال انکشاف د همکاری اداری (SIDA) او د انکشاف او همکاری لپاره د سویس د اداری(SDC) له خوا تمویلیږی.

په ۲۰۱۳ کال کی ځانګړی پروژی د اروپایی کمیسیون (EC) ، دانکشاف او همکاری لپاره د سویس اداره ، دابحارو ماورا د انکشاف انستیتوت، د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، د ملګرو ملتونو د ښځو پروګرام او همدارنګه د فنلند د سفارت له خوا تمویلیږی.

**دا نشریه دملګرو ملتونو د ښځو د پروګرام له خوا تمویل شوی ده .**